مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شېرمحمد امیني ستانکزی

۲۰۲۶/۱۱/۰۳

د ملي ورځپاڼو ارزښت او د پياوړتيا لپاره يې لارې چارې

په کابل کې د هېواد په کچه د دولتي رسنيو د مسوولينو، د نشراتي خپرونو د آمرينو او د ولايتي جرايدو د مديرانو لپاره د ظرفيت لوړونې دري ورځنې سمينار جوړېدل، چې په ترڅ کې يې د ورځپاڼو رياست له لوري د ملي ورځپاڼو د محتوا، کيفيت او خپرنيز بهير د ښه والي په اړه مهم موارد مطرح شوي يو ارزښتناک نوښت دی. خو د دې نوښت د اغېزمنتيا لپاره اړينه ده، چې وړاندې شوي وړانديزونه په عملي بڼه بدل او د پلي کېدو لپاره يې لازم اقدامات ترسره شي.

ملي ورځپاڼې د يوه هېواد د دولت، خلکو، فرهنګ، ژبې او ټولنيزو ارزښتونو د انعکاس مهمې وسيلې دي. له همدې امله، ليکوالان او د ورځپاڼو مسوولين بايد د ورځنيو مسايلو، ملي يووالي، فرهنګي بډاينې، کرنې، کرکېلې، کورنيو توليداتو، ښوونې او روزنې، ټکنالوژۍ او نورو مهمو برخو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

ما هم تېر کال په دې اړه يوه موضوع مطرح کړې وه او په دې مقاله کې غواړم سرکال هم د ملي ورځپاڼو د ارزښت، د هغوی د نشراتي وضعيت، د محتوا د پياوړتيا او د لا پراختيا په اړه مهم ټکي او وړانديزونه په منظم ډول وړاندې کړم.

په افغانستان کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معينيت او د ورځپاڼو رياست له لوري ځلور مهمې ملي ورځپاڼې، يعنې هېواد، انيس، شريعت او کابل ټايمز د هېواد د مطبوعاتي ډګر له هغو خپرونو څخه دي، چې خپل نشراتي بهير يې ساتلی دی. دغه ورځپاڼې د دولت او خلکو ترمنځ د اړيکو د ټينګښت، د عامه پوهاوي د لوړولو، د ملي ارزښتونو د انعکاس او د سياسي، فرهنګي او ټولنيزو موضوعاتو د وړاندې کولو په برخه کې مهم ځای لري.

يادې ورځپاڼې عموماً د جمعې ورځې پرته د اوونۍ په شپږو ورځو کې په ځلورو مخونو کې خپرېږي او دولتي دريځونه، خبرونه، راپورونه، سياسي او ټولنيز تحليلونه، فرهنګي او ادبي مطالب او معلوماتي مقالې وړاندې کوي.

که څه هم د چاپ د مخونو او محتوا کچه يې محدوده ده؛ خو تاريخي شالید يې له سلو کلونو اوږي. له همدې امله، دغه ورځپاڼې د افغانستان د سياسي، فرهنګي او ټولنيزو بدلونونو د ثبت او مستندسازۍ ارزښتناکې سرچينې ګڼل کېدای شي.

د دغو ورځپاڼو اهميت يوازې د خبرونو په خپرولو پورې محدودې نشي؛ بلکې د هېواد د تاريخي حافظې، فرهنګي ميراث، ژبني هويت او مطبوعاتي تجربو په ساتنه کې هم ونډه ولري. راتلونکې نسلونه کولای شي د دغو خپرونو له آرشيفونو څخه د هېواد د تېر تاريخ، ټولنيزو بدلونونو او فرهنګي تحولاتو په اړه ګټور معلومات ترلاسه کړي.

ملي ورځپاڼې د خبرونو او راپورونو په خپرولو بسنه ونه کړي، د علمي، تحليلي، ادبي، څېړنيزو او معلوماتي مقالو له لارې د ليکنې او لوستنې فرهنګ هم پياوړی کړي. د ورځپاڼو محتوا تنوع او کيفيت کولای شي د لوستونکو لېوالتيا زياته او ټولنيز او فرهنګي اغېز پراخ کړي.

د دې موخې لپاره اړينه ده، چې د هېواد د ورځنيو اړتياوو او د خلکو د ژوند له واقعيتونو سره تړلي موضوعګاني په پام کې ونيول شي. د بېلګې په توګه، د کرنې او کرکېلې، کورنيو توليداتو، اقتصادي ودې، ښوونې او روزنې، روغتيا، چاپېريال ساتنې، ټکنالوژۍ، ادبياتو، تاريخ، فرهنګ او ټولنيزو ستونزو په اړه ګټور مطالب بايد په منظم ډول خپاره شي.

همدارنګه، د ملي يووالي، متقابل درناوي، ټولنيز تفاهم او ګډو ارزښتونو د پياوړتيا لپاره داسې ليکنې اړينې دي، چې د خلکو ترمنځ د همکارۍ، مسوولیتپالنې او ګډ ژوند فرهنګ ته وده ورکړي. په دې برخه کې بايد د مطالبو دقت، مسلکي معيارونه، د سرچينو اعتبار او د بېلابېلو موضوعاتو متوازن انعکاس په پام کې ونيول شي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ملي ورځپاڼو د تاريخي، فرهنګي او معلوماتي ارزښت د ساتنې او پياوړتيا لپاره لاندې وړانديزونه د پاملرنې وړ دي:

۱ -د چاپ او وېش د بهير پراخول: د ورځپاڼو د چاپ شمېر، د مخونو کچه او د وېش بهير دي د امکاناتو او اړتياوو له مخې پراخ شي، څو د پلازمېنې ترڅنګ په ولايتونو او لرې پرتو سيمو کې هم د خلکو لاسرسی ورته اسانه شي.

۲ -د لوستونکو او ليکوالانو ګډون (اشتراک) زياتول: د ورځپاڼو مسوولين دي د لوستونکو او ليکوالانو د ګډون لپاره مناسبې لارې چارې برابرې کړي. د لوستونکو نظريات، وړانديزونه او ليکنې دې وارزول شي او د خپرېدو لپاره دې ورته د کيفيت او مسلکي معيارونو پر بنسټ زمينه برابره شي.

۳ -د ببلابېلو موضوعاتو لپاره د ځانګړو کالمونو رامنځته کول: په ورځپاڼو کې دې د فرهنګ، اقتصاد، کرنې، ښوونې او روزنې، ټکنالوژۍ، ادب، تاريخ، روغتيا او چاپېريال ساتنې لپاره ځانګړي کالمونه او موضوعي برخې جوړې شي، څو لوستونکي په منظم ډول د خپلو اړتياوو وړ مطالب وموميِ.

۴ -د مسلکي ليکوالانو او څېړونکو جذبول: د هېواد تکړه ليکوالان، څېړونکي، ژورناليستان او فرهنګي شخصيتونه دې د همکارۍ لپاره راجلب شي او د دوامدارو ليکنو، څېړنيزو مقالو او تحليلي مطالبو د خپرولو زمينه دې ورته برابره شي.

۵ -د برېښنايي نسخو خپرول: د ورځپاڼو برېښنايي نسخې دې هره ورځ د اړوندو رسمي وېبپاڼو له لارې خپرې شي، څو په هېواد کې دننه او بهر مېشت افغانان وکولای شي په اسانۍ ورته لاسرسی وموميِ. همدارنګه، د پخوانيو ګڼو د برېښنايي آرشيف جوړول به د څېړونکو، محصلانو او راتلونکو نسلونو لپاره ګټور وي.

۶ -د ځوانو ليکوالانو هڅول: ځوانانو ته دې د ليکنې او څېړنې فرصتونه برابر شي، د هغوی د ليکنو د ارزونې او سمون لپاره دې مسلکي لارښوونه وشي او د غوره مطالبو د خپرولو له لارې دې د هغوی استعدادونه وروزل او پياوړي شي.

۷ -د محتوا د کيفيت او مسلکي معيارونو لوړول: د ورځپاڼو په ټولو برخو کې دې د املا، ژبې، سمون، د معلوماتو د کره والي، د سرچينو د اعتبار او د ژورناليستيکي اصولو رعايت ته جدي پاملرنه وشي. د مسلکي کادرونو د پياوړتيا او د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو لپاره دې هم منظم پروګرامونه جوړ شي .

۸ -ليکوالانو ته حق الزحمه ورکول: د ليکوالانو د هڅونې او د باکيفيته ليکنو د دوام لپاره دې د حق‌الزحمې اوسنی سيستم له سره وارزول شي. د ليکنو د حجم، کيفيت، تخصصي کچې او د خپرېدو د اړتياوو په پام کې نيولو سره دې مناسب او روښانه معيارونه وټاکل شي، څو ليکوالان د خپلو هڅو په بدل کې عادلانه مالي امتياز ترلاسه کړي او د ليکوالۍ مسلکي فعاليت ته يې دوامداره انګېزه زياته شي.

له همدې امله، د دغو ورځپاڼو د پياوړتيا لپاره بايد د چاپ او وېش د پراختيا، د محتوا د تنوع او کيفيت، د مسلکي کادرونو د جذب، د ځوانو ليکوالانو د هڅونې او د برېښنايي خپرونو د پراختيا په برخو کې عملي اقدامات ترسره شي .

په ياد سمينار کې د مطرح شويو وړانديزونو اغېزمنتيا هم هغه مهال څرګندېدای شي، چې د پلي کېدو لپاره يې روښانه ټګلاره، مشخص مسوولېتونه او د ارزونې ميکانيزمونه رامنځته شي.

په پای کې بايد وويل شي، چې د ملي ورځپاڼو پرمختګ يوازې د چاپ د مخونو او شمېر په زياتوالي پورې تړلی نه؛ بلکې د محتوا کيفيت، د لوستونکو اړتياوو ته ځواب ويل، د ليکوالانو ګډون او د خپرونو اسانه لاسرسی هم پکې بنسټيز رول لري. که دغو برخو ته په همغږۍ او دوامداره توګه پاملرنه وشي، ملي ورځپاڼې به وکولای شي خپل تاريخي او فرهنګي ارزښت لا پياوړی او په ټولنه کې خپله معلوماتي، تعليمي او فرهنګي ونډه پراخه کړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ